# د مسیچیوسېټس د مسکن سرچینه او د کرایې د مرستې

# لارښود

د HUD ساحوی دفتر په مسیچیوسېټس کی

**10 Causeway Street 3rd Floor**

**Boston, MA 02222**

**د 2023 اګست**

## فهرست


عمومي بیاکتنه ........................................ 3
عامه مسکن ........................................ 4
د مسکن د انتخاب کوپونونه (8 برخه) ........................................ 5
د څو ګوني کورنۍ مسکن ........................................ 6
د بې کوره والي مرسته ........................................ 7
قانوني مرسته ........................................ 8
د کور ملکیت ........................................ 9
ضبط او د هغه د مخنیوي څرنګوالی ........................................ 10
د کور پېرودل ........................................ 12
د خرڅلاو لپاره HUD کورونه ........................................ 12
صحي کورونه ........................................ 13
عادلانه مسکن او مساوي فرصت ........................................ 13
د پوخې متقاعد سرچینې ........................................ 16
د مشرانو ښاریانو سرچینې ........................................ 17
نورې مهمې سرچینې ........................................ 18
ضمیمې ........................................ 21

## عمومي بیاکتنه

دغه لاربنود له تاسو سره د خینو هغو مهمو پروګرامونو د پر لاري اچولو لپاره ډیزان شوی چي د HUD لخوا تمویلیږي او پکي د کور کرایي مرسته، د کور مالکیت، بي کوره والی، د مسکن سلا مشوره او عادلانه مسکن پکي شامل دی. موږ د مهرباني په توګه همداراز د خینو هغو فدرالي، ایالتي او سیمه ییزو سازمانونو په هکله معلومات شامل کړي چي د مسکن او ملاتړ اړونده سرچیني لري چي ښایي تاسو وغواړئ په هکله یي پوښتنه وکړئ.




د HUD پروګرامونو په هکله اضافي معلوماتو ته په انلاین بنه په www.hud.gov لینک کي یا له https://resources.hud.gov/ لینک څخه ستاسو په کمپیوټر\ګرځنده ټلیفون کي د HUD سرچینو موندونکی اپلیکشن په راښکته کولو یا **د HUD Boston ځایي دفتر ته په 994-8200 (617) سره** په زنګ وهلو لاسرسی کیدی شي

### د کرایي مرسته

د HUD څو داني هغه پروګرامونه تمویلوي چي له عامو ادارو او د کور خصوصي مدیرانو سره مرسته کوي چي کم عاید لرونکو کورنیو ته د کرایي د ادایني وړ واحدونه چمتو کړي. HUD په مستقیمه توګه د مسکن واحدونه **نه** چمتو کوي یا یي **نه** اداره **کوي**. HUD همداراز هیڅ ډول کورنو لپاره انتظار لیست **نه** اداره کوي یا یي **نه** چمتو **کوي**.

د HUD لخوا دری داني لوی تمویل شوي پروګرامونه شته دي چي د مسکن مرسته چمتو کوي:

1. **عامه مسکن**
2. **د مسکن د خوښي کوپونونه (8 برخه)**
3. **د دولت لخوا مرسسته لرونکی په خصوصي توکه خپل شوی مسکن**

**د پوښتلو مهمي پوښتني:** د مسکن اداري د کور مدیر ته زنګ وهلو پر مهال ځیني هغه پوښتني چي ښایي تاسو یي وپوښتئ، په لاندي ډول دي:

- د دغه پروګرام یا ځانګړي واحد لپاره د عاید اړتیاوي کومي دي؟
- ایا تاسو غوښتنلیکونه منئ؟
- ایا تاسو کوم ډول غوره توبونه لرئ؟ ممکن د معلولو، بي کوره، د کورني تاوتریخوالي د قربانیو یا د ښار\ښار څنډي اوسیدونکو او نورو لپاره غوره توبونه شته دي.
- د مسکن د ادارو لپاره: تاسو کوم پروګرامونه لرئ (د بېلګي په توګه مسیچیوسېټس خپل د ایالت لخوا د عامه مسکن چلېدونکي پروګرامونه لري)؟
- د خصوصي کور مدیرانو لپاره: ایا تاسو نور ملکیتونه لرئ چي ښایي پکي خالي ځایونه شته وي؟ ایا تاسو غوره توبونه لرئ؟

| ایالتي پروګرامونه |
|---|
| تاسو همداراز د مسیچیوسېټس عام المنفعه دفترونو ته د هغه د مسکن پروګرامونو په هکله د معلوماتو لپاره زنګ وهلی شئ:<br><br>**د عامه مسکن\8 برخي کوپونونه:**<br>د مسیچیوسېټس د مسکن او ژوند کولو وړ ټولنو اجرایوي دفتر (EOHLC)<br>پته: 100 Cambridge Street Suite 300<br>Boston, MA 02114<br>ټلیفون: 573-1100 (617)<br><br>**د څو ګوني کورنی مسکن او د کور مالکیت:**<br>MassHousing<br>پته: One Beacon Street Boston, MA 02108<br>ټلیفون: 854-1000 (617) |

د متحده ایالاتونو د کرني څانګه په کلیوالو سیمو کي د ادایني وړ کرایي مسکن لري. د لا نورې زده کړې لپاره https://www.rd.usda.gov/about-rd/agencies/rural-housing-service لینک وګورئ یا 414-1226 (800) 1 ته زنګ ووهئ.

**د مسکن مسیچیوسېټس موندونکی** د ایالت پر کچه د ادایني وړ کرایي چارو د لټون لپاره یوه وړیا او انلاین وسیله ده: https://housingnavigatorma.org/

# عامه مسکن

## عامه مسکن څه شی دی؟

عامه مسکن د ټیټ عاید لرونکو پر شرایطو برابرو کورنیو، زړو او معلولیت لرونکو اشخاصو لپاره د کرایي ښه او خوندي مسکن د چمتو کولو لپاره تاسیس شوی. عامه مکسن په ټولو سایزونو او ډولونو کي راځي د ویشل شوي واحدي کورنی له کورونو نیولي د زړو کورنیو لپاره تر لوړ پوړ اپارتمانونو پوري.

## څوک پر شریطو برابر دي؟

عامه مسکن تر ټیټ عاید لرونکو کورنیو او اشخاصو پوري محدود دی. د عامه مسکن اداره (PHA) ستاسو پر شرایطو برابروالی د لاندي اساس له مخي ټاکي: 1) کلني ناخالص عاید؛ 2) ایا تاسو د زاړه، معلولیت لرونکي شخص یا کورنی په توګه وړتیا لرئ او 3) د متحده ایالاتو تابعیت یا کډوالی وضعیت. که تاسو پر شرایطو برابر یاست، نو PHA به ستاسو ماخذونه وګوري څو ډاډمنه شي چي تاسو او کورنی به مو ښه کرایه کوونکي وي. PHAs ممکن هر هغه غوښتنلیک سپارونکو ته د داخلي څخه انکار وکړي چي له عادتونو او کړنو یي تمه کیدی شي چي پر نورو کرایه کوونکو یا د پروژې چاپیریال باندي ناوړه اغیزه ولري.

PHAs د HUD لخوا د عاید رامنځته شوي محدودیتونه کاروي. د عاید محدودیتونه له یوي سیمي تر بلي توپیر لري نو تاسو ممکن په یوه PHA کي پر شریطو برابر یاست، خو په بله کي نه. هغه PHA چي ستاسو تولني ته خدمت کوي، تاسو ته ستاسو د ساحي او کورنی اندازې لپاره د عاید کچه چمتو کولی شي یا تاسو په انلاین بڼه په https://www.huduser.gov/portal/datasets/il.html لینک کي د عاید محدودیتونه موندلی شئ.

## څنګه اپلای وکړم؟

دا چي HUD کور مستقیم نه اداره کوي، نو موږ غوښتنلیکونه نه پروسس کوو. د عامه مسکن لپاره اپلای کولو په پار له خپل سیمه ییز PHA سره اړیکه ونیسئ. د مسیچیوسېټس د مسکن ادارو لیست په 21 پاڼه کي وګورئ.

## ایا زه د کوم ډول اسنادو تولید ته اړتیا لرم؟

هو، PHA به د هر هغه اسنادو غوښتنه وکړي چي ورته اړتیا وي (د بیلګي په توګه، د زیږون تصدیقونه، مالیاتي اظهارنامي) څو ستاسو په غوښتنلیک کي ورکړل شوي معلومات تایید کړي. PHA به ستاسو د ګومارونکي پر تایید هم تکیه وکړي او داسي نور. له تاسو به وغوښتل شي چي PHA ته د اړونده معلوماتو خپرولو د اجازې لپاره یوه فورمه لاسلیک کړئ.

## څه وخت به خبر راکړل شي؟

PHA باید لیکلي خبرتیا چمتو کړي. که PHA معلومه کړي چي تاسو پر شرایطو برابر یاست، نو ستاسو نوم به د انتظار په لیست کي واچول شي، مګر دا چي PHA درسره سمدستي مرسته وکړي. کله چي ستاسو نوم په انتظار لیست کي راشي، نو PHA به له تاسو سره اړیکه ونیسي. که معلومه شي چي تاسو پر شرایط برابر نه یاست، نو PHA باید ووایي چي ولي او که تاسو وغواړئ، کولی شئ د غیر رسمي استماع غوښتنه وکړئ.

## ایا زه باید کومه اجازه لاسلیک کړم؟

که تاسو ته یو کور یا اپارتمان وړاندیز کیږي او و ي ومنئ، نو باید له PHA سره اجاره لاسلیک کړئ. تاسو ممکن PHA ته پیشکي ورکړئ. تاسو او د PHA استازی باید په ګډه اجارې ته یو نظر وکړئ. دغه چاره به د کرایه کوونکي په توګه ستاسو د مسوولیتونو او د ځمکي مالک په توګه د PHA مسوولیتونو په تړاو ښه پوهه درکړي.

## ایا د انتّخاب کوم ډول غوره توبونه شته دي؟

ځیني وختونه شته دي. د کورنیو ځانګړو ګروپونو ته غوره توب ورکول PHA ته دا توان ورکوي چي د کور محدودې سرچینې هغو کورنیو ته لاربنود کړي چي مسکت ته خوا ډېره اړتیاوي ولري. د سیمه ییز غوره توب مثالونو کي ځایی مسکن، معلولیت، بې کوره کیدو یا د تقاعد شوي پوځي حالت شامل دي. دا چي د مسکن د مرستي تقاضا اکثرا د HUD او سیمه ییزو PHAs لپاره تر شته محدودو سرچینو ډیره وي، نو د اوږد انتظار موده معمولي دي. په حقیقت کي PHA ممکن خپل د انتظار لیست وتړي کله چي په لیست کي ډیري داسي کورنی شته وي چي په نږدې راتلونکي کي ورسره مرسته کیدی شي. له سیمه ییز PHA څخه پوښتنه وکړئ که دوی کوم غوره توبونه ولري.

## د مسکن د انتخاب کوپونونه (8 برخه)

### د مسکن د انتخاب کوپونونه څه شی دي؟

د مسکن د انتخاب کوپون (HCV)یوه فرد یا کورنۍ ته اجازه ورکوي چي هر هغه مسکن غوره کړي چي د پروګرام اړتیاوې پوره کوي او د دولتي مرستي لرونکو کورونو په پروژو کي تر موقعیت لرونکو واحدونو پوري محدود نه وي. د مسکن د انتخاب کوپونونه په سیمه ییزه توګه د عامه مسکن اداري (PHA) لخوا اداره کیږي. PHAs د کوپون پروګرام اداره کولو لپاره له HUD څخه فدرالي تمویلونه ترلاسه کوي.

هغه کورنۍ چي کوپونه ورته صادر وي، د کورنۍ د انتخاب لپاره د مناسب مسکن د واحد د موندلو مسوولیت لري چي مالک پکي د پروګرام له مخي له کرایه کولو سره موافق وي. په دې واحد کي ممکن د کورنۍ اوسنی استوګنځی شامل وي. د کرایي واحدونه باید د روغتیا او خوندیتوب هغه اصغري معیارونه پوره کړي څه ډول چي د PHA لخوا ټاکل شوي.

د مسکن دولتي مرسته د ګډون کوونکي کورنۍ په استازیتوب د PHA لخوا مستقیم د ځمکي مالک ته ورکول کیږي. بیا کورنۍ د کور د مالک لخوا اخیستل شوي اصلي کرایي او د پروګرام لخوا د دولتي مرسته شوو پیسو ترمنځ توپیر تادیه کوي. په ځانګړو شرایطو کي، که د PHA لخوا اجازه ورکړل شي، یوه کورنۍ کولی شي خپل کوپونو د یهو معمولي کور پیرودلو لپاره وکاروي.

### ایا زه پر شرایطو برابر یم؟



د مسکن د کوپون پر شرایطو برابروالي د PHA لخوا د کلني ناخالص عاید او کورنۍ اندازې پر اساس ټاکل کیږي او د متحده ایالاتو د اتباعو او هغو غیر اتباعو تر مشخصو کټګوریو پوري محدود دی چي د کډوالۍ وضعیت لري. په عموم کي د کورنۍ عاید ممکن د هغه ښارګوټي یا میتروپولیټان ساحې لپاره د منځني عاید تر 50% ډېر نه وي چي کورنۍ پکي ژوند کول غوره کوي. د [منځنۍ عاید کچې](#) د HUD لخوا خپره شوي او د موقعیت له مخي توپیر لري. هغه PHA ستاسو ټولنې ته خدمت کوي، کولی شي تاسو ته ستاسو د ساحې او کورنۍ اندازې لپاره د عاید محدودیت چمتو کړي.

PHA به د غوښتنلیک د پروسې په بهیر کي د کورنۍ عاید، شتمنیو او د کورنۍ جوړښت په اړه معلومات راټول کړي. PHA به دغه معلومات له نورو سیمه ییزو ادارو، ستاسو له کار ګومارونکي او بانک سره تایید کړي او دغه معلومات به د پروګرام پر شرایطو د برابروالي او د مسکن د مرستي د پیسو د اندازې د معلومولو لپاره وکاروي. که PHA معلومه کړي چي ستاسو کورنۍ پر شرایطو برابره ده، نو دوی به ستاسو نوم په انتظار په لیست کي واچوي، مګر دا چي دوی سمدلاسه درسره مرسته وکړي. کله چي ستاسو نوم په انتظار لیست کي راشي، PHA به له تاسو سره اړیکه ونیسي او تاسو ته به د مسکن کوپون درکړي.

### څنګه اپلای وکړم؟

د PHA له لارې د مسکن د انتخاب کوپون لپاره اپلای وکړئ. په 21 پانه کي د مسیچیوسېټس د مسکن د ادارو لیست وګورئ. تاسو کولی شئ د کور جوړوني د مسکن د ادارو ته څومره چي وغواړئ درخواست وکړئ، خو سپارښتنه کیږي چي لږ تر لږه یوه PHA ته په مرکزي انتظار لیست کي اپلای وکړئ. دا په میسچیوسېټس کي د 102 مسکن ادارو یوه ډله ده چي یو لیست شریکوي، نو په دې ترتیب له دوی څخه یوه ته په اپلای کولو سره په اغیزمنه توګه د دوی ټولو ته اپلای کوئ. د مرکزي انتظار لیست په اړه یو غوښتنلیک او معلومات په 28 پانه کي موندل کیدی شي یا کولی شئ آنلاین https://www.affordablehousing.com/masscwl ته لاړ شئ څو د انتظار لیست کي د خپل حالت اپلای وکړئ یا یې وګورئ.

### سیمه ییز غوره توب او انتظار لیست – دا څه شی دي او پر ما څنګه اغیز کوي؟

هر PHA دا اختیار لري چي سیمه ییز غوره توبونه رامنځته کړي څو د مسکن اړتیاوې او د خپلي ټولني لومړیتوبونه منعکس کړي. د کورنیو ځانګړو ګروپونو ته غوره توب ورکول PHA ته دا توان ورکوي چي د مسکن محدودي سرچیني هغو کورنیو ته چي مسکن ته خورا ډېره اړتیاوې لري، لاربښوونه وکړي. دا چي د مسکن د مرستي غوښتنه اکثرا د HUD او سیمه ییز PHAs لپاره تر شته محدودو سرچینو ډېره وي، نو د اوږد انتظار موده معمولي دي. په حقیقت کي PHA ممکن خپل د انتظار لیست وتړي کله چي په لیست کي ډېری داسي کورنۍ شته وي چي په نږدې راتلونکي کي ورسره مرسته کیدی شي. له PHA څخه پوښتنه وکړئ که دوی کوم غوره توبونه ولري.

# د څو ګوني کورنۍ مسکن

## د څو ګوني کورنۍ مسکن څه شی دی؟

د څو ګوني کورنۍ مسکن د مسکن په خصوصي توګه هغو خپلو شوو ودانیو ته اشاره کوي چې دولتي مرسته لري. د کور مالک د خصوصي کور مالک دی. په مسیچیوسېټس کې د څو ګوني کورنۍ د کورونو د لېست کولو لپاره 30 پاڼه وګورئ.

## څنګه د څو ګوني کورنۍ د کرایي مسکن لېست پیدا کړم؟

1. په دغه کتاب کې لېستونه د هغه ښار په وسیله جلا شوي چې دوی پکې موقعیت لري. هغه ښار وګورئ چې غواړئ پکې یو اپارتمان ومومئ.

په لاربنود فهرست کې هر کور په لاندې ډول ډلبندي شوی:

- زاړه / معلول –- د افرادو یا کورنیو لپاره داسې اپارتمانونه چې یو کس پکې لږترلږه 62 کلن وي یا ډېر عمر لري. په ځینو مواردو کې دوی د معیوبینو او/یا معلولینو لپاره هم شته دي.
- کورنۍ او زاړه –- ځینې اپارتمانونه په ځانګړي ډول د زړو کورنیو لپاره ساتل شوي څه ډول چې پورته تعریف شوي.
- کورنۍ –- د هغو کورنیو لپاره اپارتمانونه چې د کورنۍ د غړو پر ډول هیڅ عمومي محدودیتونه نه لري چې منل کیدی شي.
- تر مرستې لاندې ژوند کول –- د ژوند کولو لپاره تر یو څه مرستې لاندې واحدونو لرونکو د زړو ملکیت.

که ستاسو په کورنۍ کې هیڅوک زوړ، معیوب یا معلول نه وي، نو په کورنۍ یا زوړ/کورنۍ کور کې اپلای وکړئ.

2. د کور استازي ته زنګ ووهئ څو د خالي ځایونو، پر شرایطو برابروالي، کرایې او غوښتنلیک د پروسیجرونو په اړه وپوښتئ.

هر کور د هغو کرایي واحدونو لپاره د غوښتنلیکونو د منلو خپل سیستم لري چې دوی یې اداره کوي. په ځینو مواردو کې د انتظار لیستونه شته دي او ځینې وختونه د انتظار لیست خورا اوږده وي.

د اضافي معلوماتو لپاره د څو ګوني کورنۍ د HUD دفتر د مسکن پروګرامونو د نوښتونو، پروګرامونو او پالیسیو په اړه د معلوماتو لپاره د څو ګوني کورنۍ د مسکن کور پاکولو (MFHC) سره اړیکه ونیسئ. دې ته په **1-800-MULTI-70 (1-800-685-8470)** ډایل کولو سره لاسرسی کیدی شي.

کرښه له دوشنبې تر جمعې پورې د سهار له 9:00 بجو د ماسپښین تر 5 بجو پورې کار کوي. ختیځ وخت د پیرودونکو خدمتونو استازو لخوا روزل شوي څو د خلکو پوښتنو ته ځواب ووایی، د څو کورنیو خېرونو لپاره غوښتنې ترلاسه کړي او مناسبې مراجعې جوړې کړي.



## د بې کوره والي مرسته

### زه د بې کوره والي په خطر کې یم یا اوسمهال بې کوره یم، نو کومې سرچینې شته دي؟

خورا بېلابېل سازمانونه د ایالتي حکومت، ځایي حکومت او غیر انتفاعي سازمانونو په ګډون له هغو کسانو سره مرسته کوي چې د بې کوره والي په خطر کې دي یا اوسمهال بې کوره والی تجربه کوي. د مرستې ډول ستاسو د بې ساري اړتیا پر اساس توپیر کوي. په مرسته کې د افرادو یا کورنیو لپاره بیړنی سرپناه، خواړه، د دندې روزنه او د بې کوره تقاعد شوو پوځیانو لپاره مرسته شاملېدی شي.

### که زه مرستې ته اړتیا ولرم، نو چېرته تلی شم؟



ستاسو د لټون د پیلولو لپاره غوره ځای په
https://www.hudexchange.info/housing-and-homeless-assistance/
لینک کې د HUD وېبسایټ دی.دلته سیمه ییزو سازمانونو ته لینکونه پیدا کولی شئ جې ستاسو د د حالت له مخې درسره مستقیمه مرسته کولی شي.

سربېره پر دې مسیچیوسېټس یو انلان لاربنود فهرست ساتي چې ستاسو په ټولنو کې د سرپنا په تړاو معلومات لري. که څه هم تاسو په انلاین توګه د بیړنی سرپناه د مرستې لپاره اپلای نه شئ کولی، خو په مسیچیوسېټس کې داسې ځایونه شته چې تاسو له هغو سرچینو سره نښلوي چې ورته اړتیا لرئ. تاسو دغه معلومات په https://www.mass.gov/how-to/find-emergency-family-shelter لینک یا په 584-0653 (866) سره د بې کوره والي همغږي کوونکي سره په خبرو کولو سره موندلی شئ.

تاسو همداراز په خپله ساحه کې د بې کوره والي د سرپناه یا د خدمت چمتوکوونکي په هکله د معلوماتو لپاره له ماس211 سره اړیکه نیولی شئ. ته لاړ شئ یا 1-1-2 ډایل کړئ http://mass211.org په ساده ډول.

مسیچیوسېټس همداراز په HomeBASE نامه یو د مسکن د بیړنی مرستې پروګرام لري چې هغو کورنیو ته د بیا مسکن کېدو رامنځته شوې ګټه ده چې د سرپناه بیړنی مرستې په سیستم کې دي څو دغه پروګرام یادو کورنیو ته د خپل بې کوره والي پای ته رسولو په برخه کې پر ځینو مالي خنډونو باندې د غالبېدو فرصت برابر کړي. HomeBASE د لاندې موارد‌و لپاره تمویلونه چمتو کولی شي: په نوي کور کې د لومړی او وروستی میاشتې کرایه او پیشکي، فرنیچر، میاشتنی ثابتې پیسې چې تر یوه کال پورې د کرایې په ادا کولو کې مرسته کوي، ښارې خدمتونه، د سفر لګښتونه او نور ډېر داسې لګښتونه چې په بل ډول به کورنی نورې کور ته له لاسرسي پیدا کولو څخه منع کوي. که تاسو د مسکن په بحران کې یاست او مرستې ته اړتیا لرئ او\یا غواړئ چې د HomeBASE په هکله لا ډېر پوه شئ، نو په مهربانی سره 584-0653 (866) ته زنګ ووهئ.

تاسو همداراز وغواړئ چې د بې کوره کورنیو لپاره نوې اجارې وېبسایټ هم ووینئ: https://www.newleasehousing.org/

### HUD پروګرامونه

**د پاملرنې ادامه (CoC)** ـ د پاملرنې د ادامې پروګرام غیر انتفاعي سازمانونو، ایالتي او سیمه ییزو حکومتونو ته سرچینې برابروي څو بې کوره افراد او کورنۍ د بې کوره والي له امله د رامنځته شوې دردونکې پېښې او موقعیت بدلېدنه په چټکه توګه بیا مسکن کړي. ستاسو په ساحه د پاملرنې د ادامې پروګرام د موندلو لپاره په مهربانی سره د 59 پاڼې لیست ته مراجعه وکړئ.

**دولتي مرسته لرونکی مسکن** ـ د عامه مسکن ډېر اداري او د HUD له لارې په خصوصي توګه د څو ګونې کورنۍ تمویل لرونکې کورونه بې کوره کسانو او کورنیو ته غوره توب ورانديز کوي. د دغو پروګرامونو په هکله د لا زیاتو معلوماتو لپاره په مهربانی سره 4 او 6 پاڼې وګورئ. که ځیرک ټلیفون لرئ، نو تاسو د HUD سرچینو موندونکې اپلیکشن ډانلوډولی شئ څو تاسو ته نږدې HUD دولتي مرسته لرونکی مسکن وپلټئ.

## قانوني مرسته

که ستاسو د کور مالک تاسو ګواښوي چې له کوره به مو وباسي يا تاسو پر خپلو حقونو باندې پوهېدو ته اړتيا لرئ، نو له يوه وکيل سره خبر وکړئ. ښايي تاسو د خپل عايد پر بنسټ د وړيا قانوني مرستې وړ وئ.



**د کم عايد لرونکو کسانو لپاره وړيا قانوني استازيتوب**

- د جرم د قربانيو لپاره قانوني مدني مرسته (CLAVC): د CLAVC لخوا د قانوني مرستې تمويل شوي پروګرامونه د جرم قربانيانو د مدني قانوني مرستې يوه پراخه کچه وړانديز کوي. په خدمتونو کې مسکن، عامه ګټې، د کورني قانون، کډوالي، د مصرفوونکي قانون، روغتيايي قانون، د معلوليت قانون، زده کړه، د کارموندنې مسلې، د زاړه کس قانون، د پوځي متقاعد حقونه او ډېر نور.
  - د قانوني خدمت د موندلو لپاره خپل زيپ کوډ دننه کړئ.
  - که له څخه د مرستې پر شرايطو برابر نه وئ، نو د نورې قانوني مرستې د موندلو لپاره د مسيچيوسېټس د قانوني سرچينې موندونکې وکاروئ.
- Boston ساحه(Boston Area)
  - د لوی Boston قانوني خدمتونه: د GBLS وکيلان او د وکيلانو مرستيالان د کم عايد لرونکي کسانو (د خدمتونو ساحې) ته مهم حقوقي مشورې او استازيتوب چمتو کوي. GBLS له خلکو سره د دوی د کډوالۍ وضعيت ته له پام پرته د دوی په ټولو کارونو کې مرسته کوي. ټيليفون: (617) 371-1234
  - د Harvard قانوني مرستې اداره: (617) 495-4408
  - د Harvard د قانون د ښوونځي د قانوني خدمتونو مرکز: (617) 522-3003
  - د وکيلانو داوطلبانه پروژه: (617) 603-1700
- Metro West ساحه(Metro West Area)
  - MetroWest قانوني خدمتونه: MWLS په Metro West سيمه کې د کم عايد لرونکو، زړو، معلولينو او د جرم قربانيانو ته وړيا مدني حقوقي مرستې. ټيليفون: (508) 620-1830
- شمال ختيځ مسيچيوسېټس(Northeaster Massachusetts)
  - شمال ختيځه قانوني مرسته: NLA د شمال ختيځ ميساچوسټس له کم عايد لرونکي او زاړه خلکو سره د سيستميک بدلون او لوړ کيفيت انفرادي استازيتوب لپاره د مهارت لرونکي، تخليقي او دوامداره مدافع وکيل له لارې عدالت او ځواکمنتيا تر لاسه کولو په برخه کې مرسته کوي. ټيليفون: (978) 458-1465
- سويل ختيځ مسيچيوسېټس(Southeastern massachusetts)
  - د جنوبي ساحلي ښارګوټو قانوني مرسته: د SCCLS ماهر مدافع ټيم د سويل ختيځ مسيچيوسېټس، کيپ کوډ او ټاپوګانو کم عايد لرونکو او زړو اوسيدونکو ته وړيا حقوقي خدمتونه وړاندې کوي. د مدخل کرښه: (800) 244-9023
- مرکزي او لوېديځ مسيچيوسېټس(Central and Western massachusetts)
  - د ټولنې قانوني مرسته: CLA د مرکزي او لويديځ مسيچيوسېټس کم عايد لرونکو او زړو اوسيدونکو ته وړيا مدني حقوقي خدمتونه وړاندې کوي. ټيليفون: (855) 252-5342

**د خصوصي وکيل د مراجعو خدمتونه:**

- د مسيچيوسېټس د اداري په توګه د قانوني مسلک وکيلانو د مراجعې خدمت: (617) 654-0400 يا (866) 627-7577
- د مسيچيوسېټس منشور، د وکيل د مراجعې خدمت: (617) 227-7335

**که تاسو د خدمت غړی یاست، نو خپل د قانوني مرستې له سيمه ييز دفتر سره اړيکه ونيسئ:**
https://legalassistance.law.af.mil/

**که تاسو په Boston ساحه کې اوسئ، نو کولی شئ د Boston ښار د کرايي د مرستې تمويل له لارې د مرستې غوښتنه وکړئ:**
https://www.boston.gov/departments/housing/office-housing-stability/rental-relief-fund

## د کور ملکیت



### د کور د پیرودلو په هکله فکر کوئ؟

د FHA پورونه له 1934 راهیسې له خلکو سره د کور د مالک کېدو په برخه کې مرسته کوي. د مسکن فدرالي اداره (FHA) - چې د HUD برخه ده - د پور بیمه کوي، چې په دې ترتیب ستاسو پور ورکوونکي کولی شي تاسو ته یو ښه معامله وړاندې کړي لکه کمه اداینه، د تړلو کم لګښتونه یا د اسانه کریډیټ لپاره وړتوب.

### خپل لومړی کور پیرئ؟

FHA ممکن یوازې هغه څه وي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. ستاسو ښکته ادایه د پیرود تر 3.5% نرخ پورې ټیټه کیدی شي. په 1-4 واحد ملکیتونو کې شته دی.

### د مسکن سلاکاران مرسته کولی شي




ایا د کور اخیستلو، کرایه کولو، ډیفالټ، له وړاندې بندیدو مخنیوی، د کریډیټ مسلو یا معکوسي ګروی په اړه مشوره غواړئ؟ په ټول هیواد کې د HUD لخوا تایید شوي د مسکن د مشورې ورکولو ادارې وړیا یا کم لګښت لرونکي مشوره وړاندې کوي.

تاسو ته نږدې د مسکن سلا مشورې ورکولو اداري لپاره آنلاین (https://www.hud.gov/offices/hsg/sfh/hcc/hcs.cfm) لټون وکړئ یا د HUD متقابل غږ سیستم ته په 4287-569 (800) سره زنګ ووهئ.

### څنګه اپلای وکړم؟



تاسو کولی شئ د بانک، سپما او پور، د کریډیټ اتحادیې، د ګروی شخصي شرکت یا د دولت بېلابېل پور ورکوونکو څخه د پور په مرسته کور تمویل کړئ. د پور لپاره پیرود د بل لوی پیرود لپاره پیرودلو په څیر دی. تاسو پیسې خوندي کولی شئ، که د غوره بیو په تړاو د لیدو لپاره یو څه وخت ورکړئ. بېلابېل پور ورکوونکي کولی شي د سود بېلابېل نرخونه او د پور فیسونه وړاندې کړي؛ د سود ټیټ نرخ کولی شي لوی توپیر رامنځته کړي چې تاسو د څومره کور لپاره اداینه کولی شئ. تر پریکړې کولو مخکې له څو پور ورکوونکو سره خبرې وکړئ. ډیری پور ورکوونکي د پور د تایید پروسې لپاره 3-6 اونیو ته اړتیا لري.

### د FHA لخوا د بیمه شوي ګروی په هکله پوښتنې شته؟

وړیا ټلیفون: 5342-225 (800)
برېښنالیک: answers@hud.gov
انلاین: https://www.hud.gov/program_offices/housing/sfh/lender

### نوره مرسته:

- **MassHousing** د کور مالک والي او د کرایې د مرستې وړاندیز کوي. One Beacon Street Boston, MA 02108
ټلیفون: 1154-882 (800)
- **د متحده ایالاتو د کلیو پراختیا د کرنې څانګه** د کلیوالي ټولنو د اوسیدونکو لپاره د دولتي مرستې لرونکي مسکن پراختیا، د کور ترمیم پورونه، مرستې او نور ډیر څه په ګډون پروګرامونه لري. د دغو پروګرامونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره په آنلاین بڼه https://www.rd.usda.gov/ ته لاړ شئ یا د مسیچیوسټس له دفتر سره په USDA Amherst State Office 451 West Street Suite 2 Amherst, MA 01002 اړیکه ونیسئ. ټلیفون: 4300-253 (413) فکس: 7673-596 (855)




## ضبط او د هغه د مخنیوي څرنګوالی

### د ضبط د مخنیوي په هکله لاربنووني

ایا تاسو د خپل ګروی له اداینو سره د تعقیب په برخه کي ستونزه لرئ؟ ایا تاسو له خپل پور ورکوونکي څخه خبرتیا ترلاسه کړې چي درڅخه غواړي چي له دوی سره اړیکه ونیسئ؟

د خپل پور ورکونکي لخوا لیکونه له پامه مه غورځوئ. خپل پور ورکونکي ته سمدلاسه زنګ ووهئ. د HUD لخوا د مسکن له تایید شوي اداري سره په https://www.hud.gov/offices/hsg/sfh/hcc/hcs.cfm اړیکه ونیسئ.
وریا شمېره: 4287-569 (800)
TTY (800) 877-8339

### که تاسو خپله د ګروی اداینه نه شئ کولی:

1. **ستونزه له پامه مه غورځوئ.**
هر څومره چي شاته شئ، هغومره به ستاسو د پور بیرته ورکول ستونزمن وي او ډیر احتمال لري چي تاسو به خپل کور له لاسه ورکړئ.

2. **همدا چي پوه شوئ چي ستونزه لرئ، نو خپل پور ورکوونکي ته زنګ ووهئ.**
پور ورکوونکي ستاسو کور نه غواړي. دوی اختیارونه لري چي په سختو مالي وختونو له پور اخیستونکو سره مرسته وکړي.

3. **له خپل پور ورکوونکیي څخه تول پوستونه پرانیزئ او ځواب ورکړئ.**
لومړنی هغه خبرتیاوې چي تاسو یي ترلاسه کوئ، د ضبط د مخنیوي داسي اختیارونو په اړه ښه معلومات وړاندي کوي چي کولی شي د مالي ستونزو په مبارزه کي درسره مرسته وکړي. په وروستي بریښنالیک کي ممکن د قانوني اقدام پاتي کیدو مهم خبرتیاوې شاملي وي. د بریښنالیک په پرانیستلو کي ستاسو پاتي راتلل به د ضبط په محکمه کي عذر نه وي.

4. **د ګروی پر خپلو حقونو پوه شئ.**
د خپل پور سندونه ومومئ او ویې ولولئ څو پوه شئ چي که تاسو خپل تادیات نه شئ کولی، نو پور ورکوونکی به مو څه وکړي. د دولت د مسکن له دفتر سره په اړیکه نیولو سره ستاسو په ایالت کي (ځکه چي هر ایالت توپیر لري) د ضبط د قوانینو او مهالویشونو په اړه زده کړئ.

5. **ستاسو د ضبط د مخنیوي پر اختیارونو پوه شئ.**
د ضبط د مخنیوي (د زیان کمولو په نوم هم یادیږي) د اختیارونو په اړه ارزښتناکه معلومات په انلاین بڼه موندل کیدی شي.

**6. د HUD لخوا د مسکن له تایید شوي سلاکار سره اړیکه ونیسئ.**

HUD په ټول هیواد کې د مسکن وړیا یا خورا کم لګښت لرونکې سلا مشوره ورکوي. د د مسکن سلاکاران کولی شي درسره پر قانون او ستاسو پر اختیارونو باندې په پوهیدو کې مرسته وکړي، ستاسو مالي چارې تنظیم کړي او ستاسو د پور ورکوونکي سره په خبرو اترو کې ستاسو استازیتوب وکړي، که دغې مرستې ته اړتیا لرئ. [تاسو ته د HUD لخوا د مسکن تایید شوی نږدې سلاکار](#) وموميئ یا 4287- 569 (800) یا 877-8339 (800) TTY ته زنګ ووهئ.

**7. خپل لګښت کولو ته لومړیتوب ورکړئ.**

تر روغتیایي پاملرنې وروسته ستاسو د کور ساتل باید ستاسو لومړی لومړیتوب وي. خپل مالیات بیا وګورئ او وګورئ چې په کوم ځای کولی شئ د ګروی د تادیې کولو لپاره لګښتونه راکم کړئ. د اختیاري لګښتونو په لټه کې شئ - کیبل تلویزیون، غړیتوبونه، تفریح - چې تاسو یې له منځه وړی شئ. د کریډیټ کارتونو او نورو "غیر خوندي" پورونو د ځنډ ادایني تر هغه چې تاسو خپل ګروي تادیه نه کړئ.

**8. خپلې شتمنۍ وکاروئ.**

ایا تاسو شتمنۍ لرئ -- دویم موټر، ګاڼې، د ټول ژوند د بیمې پالیسي -- چې تاسو کولی شئ په نغدو پیسو یې وپلورئ څو ستاسو د پور بیرته ترلاسه کولو کې مرسته وکړي؟ ایا ستاسو په کورنۍ کې څوک کولی شي اضافي عاید ترلاسه کولو لپاره اضافي دنده ترلاسه کړي؟ حتی که دغه هڅې ستاسو شته نغدي یا ستاسو عاید کې د پام وړ زیاتوالی ونه لري، دوی ستاسو پور ورکوونکي ته ښیي چې تاسو د خپل کور ساتلو لپاره قرباني کولو ته لیواله یاست.

**9. د ضبط د مخنیوي له شرکتونو ډډه وکړئ.**

تاسو اړتیا نه لرئ د ضبط د مخنیوي مرستې لپاره فیس ورکړئ - د دې پیسو پرځای د ګروي تادیه کولو لپاره وکاروئ. ډیری د انتفاعي شرکتونه به درسره اړیکه ونیسي چې ستاسو له پور ورکوونکي سره د خبرو اترو ژمنه کوي.

په داسې حال کې چې دا ممکن مشروع سوداګری وي، خو دوی به تاسو ته د معلوماتو او خدمتونو له امله یو لوی فیس (معمولا د دوه یا دریو میاشتو د ګروي تادیه) واخلي، ستاسو پور ورکونکی یا [د HUD لخوا د مسکن تایید شوی سلاکار](#) به یې وړیا چمتو کړي، که ورسره اړیکه ونیسئ.

**10. د ضبط د بیارغونې په درغلیو کې خپل کور له لاسه مه ورکوئ!**

که کوم شرکت ادعا کوي چې کولی شي سمدلاسه ستاسو ضبط ودروي او که تاسو یو داسې سند لاسلیک کړئ چې دوی یې ستاسو په استازیتوب عمل کولو لپاره ټاکي، نو ممکن په ښه توګه د خپل کور پر سرلیک لاسلیک وکړئ او په خپل کور کې کرایه کوونکی شئ! د ټولو شرطونو له لوستلو او پرې تر پوهیدو او د وکیل، د املاکو د باور وړ مسلکي یا [د HUD لخوا د مسکن تایید شوی سلاکار](#) څخه مسلکي مشورې ترلاسه کولو پرته هیڅ قانوني سند مه لاسلیکوئ.

**ایا HUD له ما سره مرسته کولی شي، که ونه شم کولی چې خپله ګروي تادیه کړم او زه خپل کور له لاسه ورکوم؟**

ځواب: تاسو ته [د HUD لخوا د مسکن د سلامشورې تایید شوې له نږدې اداري](#) سره اړیکه ونیسئ. یا د مسکن د سلا مشورې وړیا کرښې ته په 4287-569 (800) سره اړیکه نیولی شئ. دغه راز [د ضبط د مخنیوي په هکله زموږ لارښوونې](#) ولولئ.

**زه د FHA پور لرم او غواړم د ضبط مخه ونیسم.**

د مرستې لپاره زموږ د [سروی له ملي مرکز](#) سره اړیکه ونیسئ. د مرکز له وړیا کرښې سره په 8685 -297 (888) اړیکه نیولی شئ یا ورته په mhsg-lossmit@hud.gov سره برېښنالیک استولی شئ.

**څنګه د ضبط مخه ونیسو**

د دې ډېری بیلابیل دلیلونه کیدی شي چې ولې د کور مالکین د دوی د ګروی له تادیاتو څخه وروسته پاتې کیږي. ښایي تاسو د کار له لاسه ورکولو، د عاید کمښت یا د پورونو د زیاتوالي له امله د ګروی په تادیاتو کې شاته یاست. که تاسو د ګروی په تادیاتو کې شاته یاست، نو کولی شئ د خپلې کورنۍ تر ټولو مهم ملکیت - ستاسو کور له لاسه ورکړئ. ممکن داسې لارې وي چې په وسیله یې ستاسو پور ورکوونکي کولی شي درسره کار وکړي څو د ضبط مخه ونیسي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره پر لاندې لینکونو کلیک وکړئ:

- د FHA د تاوان د راکمولو پروګرام
- د ضبط مخنيوي لپاره جامع لارښود
- د ضبط د مخنيوي لپاره لارښووني
- د شبط د مخنيوي لپاره لارښووني (بروشر)

په لیرد کې د کورنیو لپاره د مسیچیوسیټس د استوګنځي د مرستي (RAFT) پروګرام - د کم عاید لرونکي کور مالکینو لپاره شتون لري چې د بندیدو له خطر سره مخ دي. د کور پر شرایطو برابر مالکين کولی شي د مسکن د تاديې د بيرنۍ مرستي پورټل له لارې د RAFT لپاره غوښتنه وکړي.

د کور مالکینو لپاره اضافي سرچیني چې په خپله ګروی کې شاته دي، د پروګرام په وېبسایټ په https://massmortgagehelp.org/ کې لیست شوي دي.

**له فریبونو خبر اوسئ! که دا د ریښتیا کیدو لپاره خورا ښه ښکاري ... دا معمولا وي.**

**1-800-347-3735 ته په زنګ وهلو سره د ګروی د درغلی راپور کړئ.**

## د کور پیرودل

ایا د کور پیرودلو په هکله فکر کوئ؟ موږ داسې معلومات لرو چې له تاسو سره مرسته کولی شي! په https://www.hud.gov/topics/buying_a_home لینک کې لا نور زده کړئ.

- د څومره کور پیسي ورکولی شئ؟
- پر خپلو حقونو پوه شئ
- د یوه پور لپاره پیرود وکړئ
- د کور پیرودلو د پروګرامونو په زده وکړئ
- د یوه کور لپاره پیرود وکړئ
- وړاندیز وکړئ
- د کور پلټلنه واخلئ
- د کور د مالک د بیمي لپاره پیرود وکړئ
- ستاسو د نوي کور بندول

## د خرڅلاو لپاره HUD کورونه



### HUD کور څه شی دی؟

HUD کور له 1 تر 4 واحد د استوګنې کور دی چې د HUD لخوا د FHA بیمه شوي ګروی په اړه د ضبط د عمل په پایله کې ترلاسه شوی. HUD د کور مالک کیږي او د پلور لپاره یې وړاندیز کوي څو د ضبط په ادعا کې زیان بیرته ترلاسه کړي.

### څنګه د خرڅلاو لپاره HUD کور پیدا کړم؟

HUD کور پلورنځی د HUD املاکو ملکیت (REO) د واحدي کورنۍ د ملکیتونو د لیست کولو سایټ دی. دغه سایټ عامو خلکو، دلالانو، احتمالي مالکینو- ، دولتي او سیمه ییزو حکومتونو او غیر انتفاعي سازمانونو ته د خرڅلاو لپاره HUD کورونو د لیست موندلو لپاره مرکزي ځای چمتو کوي. برسېره پردې د املاکو راجستر شوي دلالان او نور سازمانونه کولی شي د خپلو پیرودونکو په استازیتوب د خرڅلاو لپاره HUD کور داوطلبي ځای پرځای کړي. HUD کور پلورنځی کې ډېری معلوماتي له کارن سره صمیمي ځانګړتیاوې هم شاملې دي چې د کور پیرود پروسي په اړه پیرودونکو ته مشوره او لارښود چمتو کوي.

د خرڅلاو لپاره HUD کورونه: https://www.hudhomestore.com/Home/Index.aspx

**د HUD لخوا تایدد پور ورکوونکی ومومئ:**

https://www.hud.gov/program_offices/housing/sfh/lender/lenderlist یا 5342-225 (800) ته زنګ ووهئ.

## صحي کورونه

HUD څو له سربو خوندي مسکن د ډاډمنولو په برخه د کار اوږد تاریخ لري چې په پراخه فدرالي غبرګون کې مناسب راځي څو په رنګ، دوړو او خاوره او نورې سرچینې لکه اوبه او مصرفي توکو کې موندل شوو سربو خطرونه حل کړي.

سرب یو ډیر زهرجن فلز دی چې په ځانګړي توګه په کوچني ماشومانو کې د یو لړ روغتیایی ستونزو لامل کېدی شي. کله چې سرب په بدن کې جذب شي، کولی شي دماغ او نورو حیاتي ارګانونو لکه پښتورګو، اعصاب او وینې ته زیان ورسوي. د کور دننه او بهر دواړه د سربو خراب شوی رنګ د کورنی له دوړو او خاورو سره مخلوط کیږي او پکې لاړ پیدا کوي.




HUD د 2017 د جنوری په 13مه نېټه تر 6 کالو څخه کم عمره هغو ماشومانو قضیو ته د سمدستي ځواب ویلو په اړه له سربو څخه د خوندي مسکن په قانون کې تعدیل خپور کړ چې د HUD لخوا تر مرسته لاندې مسکن کې په ځانګړي کټګوریو کې ژوند کوي چې د وینې د سربو کچه یې لوړه ده. کله چې یو تر 6 کالو کم عمره ماشوم د HUDلخوا تر مرسته لاندې مسکن کې اوسي او د وینې کچه یې لوړه وي، د مسکن چمتو کوونکی باید په 15 ورځو کې کور او د ماشوم له سربو سره د مخ کېدو احتمالي سرچینې معاینه کړي او ډاډمن شي چې د سربو له رنګ، دوړو یا خاوره څخه خطرونه په 30 ورځو کې کنټرولیږي. د مسکن چمتو کونکی همداراز باید قضیه HUD ته هم راپور کړي چې په دې ترتیب ځانګه ډاډمنه کېدل شي چې تعقیب پر خپل وخت بشپړ شوی.

د HUD له سربو خوندي مسکن قانون په ټولو فدرالي مرسته لرونکو مسکونو باندې پلی کیږي. که تاسو په خپل کور کې د سربو په اړه اندیښنه لرئ، په 9571-532 (800) 1 سره د میسچیوستس د ماشومانو د مسمومېدو د مخنیوي له پروګرام سره اړیکه ونیسئ.

## عادلانه مسکن او مساوي فرصت

### د مسکن تبعیض څه شی دی؟

د عادلانه مسکن قانون خلک له تبعیض څخه ساتي کله چې د کوم مسکن لپاره کرایه کوي، پیري یې یا یې مالي تمویل خوندي کوي. بندیزونه په ځانګړې توګه د نژاد، رنګ، ملي اصل، مذهب، جنسیت، معلولیت او د ماشومانو د شتون پر بنسټ تبعیض پوښي.

### کوم مسکن پوښل شوی؟

د عادلانه مسکن قانون ډیری مسکنونه پوښي. قانون په ځینو حالتو کې د مالکینو لخوا نیول شوي ودانۍ چې له څلورو واحدونو څخه زیاتې نه وي، د واحدې کورنۍ مسکن چې د دلال له کارولو پرته پلورل شوی یا کرایه شوی وي او د سازمانونو او خصوصي کلبونو لخوا پرمخ وړل شوي مسکنونه چې غړو ته اشغال محدودوي؛ معاف کوي.

### که زه فکر کوم چې حقونه مې تر پښو لاندې شوي، نو د تبعیض شکایت په کوم ځای ثبت کړم؟

HUD چمتو دی چې د مسکن د تبعیض د هرې ستونزې په برخه کې مرسته وکړي. که تاسو فکر کوئ چې حقونه مو تر پښو لاندې شوي، کولی شئ زموږ د عادلانه مسکن او مساوي فرصتونو له دفتر سره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:




د متحده ایالاتو د کور جوړوني او ښاري پراختیا وزارت
Thomas P. O'Neill, Jr. Federal Building
10 Causeway Street, Room 321
Boston, MA 02222-1092
ټلیفون (617) 994-8300 یا1 (800) 827-5005
فکس (617) 565-7313 • TTY (617) 565-5453
بریښنالیک: [Complaints_office_01@hud.gov](mailto:Complaints_office_01@hud.gov)

تاسو همدارز په دغه کتاب کې د مسکن شامله شوي د تبعیض شکایت فورمه هم ډکه کړئ او پورته لیست شوي دفتر ته يې یا د پوست، بریښنالیک یا فکس له لارې بیرته ورکړئ. د HUD 903 فورمه انلاین شکایت ستاسو لپاره آنلاین په https://portal.hud.gov/FHEO903/Form903/Form903Start.action کې هم شتون لري چې په تاسو ته د ادعا شوي سرغړوني وروسته يو کال وخت لرئ چې HUD ته شکایت ثبت کړئ، خو باید ژر تر ژره یې ثبت کړئ.

### HUD ته ستاسو په شکایت کې کوم موارد شامل کړئ؛:

- ستاسو نوم او پته له هغې نیتي سره چې پرې تبعیض پیش شوی
- د هغه شخص نوم او پته چې ستاسو شکایت پر وړاندې دی (ځواب ورکوونکي).
- د دخیل کور پته یا بله پیژندنه
- د ادعا شوي سرغړوني لنډ تفصیل (هغه پیښه چې تاسو ته د دې باور لامل شوي چې ستاسو حقونه تر پښو لاندې شوي وي)
- د ادعا شوي سرغړوني نیټه (نېټې)

### که تاسو معلول یاست:

HUD لاندې مرسته چمتو کوي:

- د اورېدو نیمګړتیا لرونکو کسانو لپاره وړیا TTY ټلیفون: 1 (800) 927-9275
- شفاهي ژباړن
- ټیپونه او د ړندو کسانو د لیک توکي
- د فورمو په لوستلو او بشپړولو کې مرسته

### د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون (VAWA)

VAWA یو فدرالي قانون دی چې په یوه برخه کې د هغو خلکو لپاره د مسکن محافظت چمتو کوي چې د فدرالي حکومت لخوا د دولتي مرستې لرونکو واحدونو لپاره غوښتنه کوي یا پکې ژوند کوي او ځوک چې کورني تاوتریخوالی، د ملګرتیا تاوتریخوالی، جنسي تیري یا تعقیب تجربه کړی څو د دوی په خوندي ساتلو کې مرسته وکړي او د دوی بې کوره والي د تجربه کولو احتمال راکم کړي. د VAWA د مسکن ساتنې په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ او دا چې څنګه په https://www.hud.gov/vawa#whatsnew کې شکایت ثبت کړئ.

# د مسکن د تبعيض معلومات

## د متحده ایالاتو د مسکن او کلیوالي پراختیا د عادلانه مسکن او مساوي فرصت دفتر

**لاربښوونې:** (مهرباني وکړئ ټايپ يا يې چاپ کړئ.) دغه فورمه په پام سره ولولئ. هڅه وکړئ چې ټولو پوښتنو ته ځواب ووایئ. که پر داسې پوښتنو نه پوهیږئ چې پر تاسو نه پلې کیږي، نو خالي يې پريږدئ. **تاسو له ادعا شوي تبعيض څخه وروسته يو کال لرئ چې شکايت ثبت کړئ.** ستاسو فورمه باید لاسليک شوې وي او نېټه ولرئ.

ستاسو نوم

ستاسو پته

ښار | ایالت | زيپ کوډ

د زنګ وهلو غوره وخت | ورځنی ټلیفون | د شپې ټلیفون

### که موږ له تاسو سره اړیکه نه شو نیولی، نو بل څوک زنګ وهلی شي؟

د اړیکي کس نوم | د زنګ وهلو غوره وخت

د ورځې ټلیفون | د شپې ټلیفون

د اړیکي کس نوم | د زنګ وهلو غوره وخت

د ورځې ټلیفون | د شپې ټلیفون

## 1. څه درپېښ شول؟

څنګه ستاسو پر وړاندې تبعیض وشو؟

*د بېلګې په توګه ایا تاسو د کور کرایه کولو یا پیرودلو فرصت څخه منع شوي واست ؟ له پور منع شوي واست؟ داسې درته ویل شوي وو چې مسکن نشته په داسې حال کې چې په واقعیت کې شته وو؟ د مسکن په لټه کې له نورو څخه په توپیر درسره چلند شوی؟*

***په لنډه توګه ووایاست چې څه پیښ شوي.***

## 2. ولې تاسو فکر کوئ چې تاسو د مسکن د تبعيض قرباني یاست؟

*ایا دغه چاره ستاسو د لاندی موارد له امله دی:*

*نژاد • رنګ • دین • جنسیت • ملي اصل • کورني وضعیت (تر 18 کلنی کم عمر لرونکې کورنی) یا • معلولیت؟*

*د بېلګې په ایا: تاسو له مسکن څخه ستاسو د **نژاد** له امله منع شوي واست؟ ایا تاسو د ګروی له پور څخه ستاسو د **دین** له امله منع شوي واست؟ یا ستاسو د **ماشومانو** له امله نه واست منل شوي؟*

*په لنډو کې واضییح کړې چې ولې فکر کوئ چې ستاسو د مسکن حقونه منع شوي وو او له پورته لیست شوي عامل (عاملونو) څخه دایره تاو کړئ چې باور لرئ چې پلي کیږي.*

## 3. تاسو څه باور لرئ چې چا ستاسو پر وړاندې تبعيض کړی؟

*د بېلګې په توګه: ایا د کور مالک، خاوند، بانک، د ځمکې استازی، دلال، شرکت یا سازمان و؟*

**معرفي کړئ چې چا ستاسو پر وړاندې تبعيض کړی.**

نوم

پته

## 4. په کوم ځای د ادعا شوې کړنې تبعيض پيښ شو؟

*د بېلګې په توګه: ایا په کرایي واحد کې و؟ د واحدې کورنی کور؟ عامه مرسته لرونکی مسکن؟ یو ګرځنده کور؟ ایا دغه تبعیض په یوه بانک کې پیښ شو؟*

**پته چمتو کړئ.**

پته

ښار | ایالت | پـتـه آر

## 5. د وروستي تبعيض کړنه څه وخت پیښه شوه؟

نېټه يې وليکئ.

___/___/___

## د پوځي متقاعد سرچینې

### ایا HUD په ځانګړې توګه د بې کوره پوځي متقاعدینو لپاره د مسکن پروګرامونه لري؟



HUD – د پوځي متقاعدینو د چارو ملاتړی مسکن (HUD-VASH) پروګرام د بې کوره پوځي متقاعدینو لپاره د مسکن د انتخاب کوپون (HCV) د کرايي مرسته د قضيې له مديريت او هغو کلينيکي خدمتونو سره يوځای کوي چې د پوځي متقاعدينو د چارو څانګې (VA) لخوا چمتو شوي. VA د VA طبي مرکزونو (VAMCs) او د ټولنې مېشته د پوهاوي کلينيکونو کې برخه اخيستونکو پوځي متقاعدينو لپاره خدمتونه وړاندې کوي. د نورو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ تاسو ته له نږدې VAMC سره اړيکه ونيسئ (خپل ځايی VAMC په https://www.va.gov/directory/guide/home.asp کې ومومئ) او په HUD-VASH کې خپله لېوالتيا ذکر کړئ يا د بې کوره پوځي متقاعدينو د ملي زنګ مرکز ته په 424-3838 (877) سره زنګ ووهئ.

تاسو همداراز د متحده ایالاتو د پوځي متقاعدینو د چارو څانګې د Boston له ځايي دفتر سره هم په 1000 -827 (800) 1 سره اړيکه نيولی شئ يا د دوی د پروګرامونو لپاره https://www.benefits.va.gov/boston/ ته مراجعه کولی شئ.

### ایالتي پروګرامونه

مهرباني وکړئ د ایالت د پروګرامونو لپاره د میسچیوسېټس د پوځي متقاعدینو د خدمتونو له څانګې (DVS) سره اړیکه ونیسئ. د DVS ماموريت دا دی چې د دولت مشترک المنافع پوځي متقاعدينو په استازيتوب وکالت وکړي او دوی ته د کيفيت ملاتړ خدمتونه چمتو کړي او د هغو پوځي متقاعدينو او د هغوی د هغو انحصار کوونکو لپاره د بيړني مالي مرستې پروګرامونه لارښود کړي چې اړتيا لري. DVS ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ www.mass.gov/veterans ته مراجعه وکړئ يا د نورو معلوماتو لپاره 210-5480 (617) ته زنګ ووهئ.

- د 8 برخه د پوځي متقاعدينو د مسکن د کوپون پروګرام (VHVP) معلوليت، شديدو رواني ناروغيو او/يا د موادو ناوړه ګټه اخيستنې عادت لرونکو بې کوره پوځي متقاعدينو ته خدمت کوي. دغه پروګرام د EOHLC د عامه مسکن او کرايي د مرستې څانګې لخوا ځارل کيږي. VHVP ته د لاسرسي لپاره، مهرباني وکړئ https://www.mass.gov/service-details/section-8-veterans-housing-voucher-program-vhvp ته مراجعه وکړئ يا د مسکن او د اوسيدو وړ ټولنو اجرايوي دفتر (EOHLC) ته په 573-1250 (617) سره زنګ ووهئ.
- د پوځي متقاعدينو د خدمت افسران (VSOs) هغه پوځي متقاعدينو دي چې د ميسچيوسېټس په ښارونو او د ښار ځنډو کې موقعيت لري. ستاسو VSO کولی شي له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره ګټو ته لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي لکه د 115 فصل مالي مرستې، روغتيايي پاملرنه، مسکن او زده کړه. ستاسو VSO همداراز د متحده ایالاتو د پوځي متقاعدينو د چارو څانګې (VA ګټې) لپاره تر خدمتونو پورې د تړلې معلوليت ادعاګانو، د دندې چمتووالی، د مسکن پوروونو او دفن ګټو په ګډون په اپلای کولو کې درسره مرسته وکړي. تاسو ته نږدې د VSO موندلو لپاره https://www.mass.gov/info-details/find-a-veterans-service-officer-near-you ته مراجعه وکړئ.



د نورو عمومي سرچينو لپاره د پوځي متقاعدينو د خدمتونو په ګډون 1-1-2 ډايل کړئ.

## د مشرانو ښاریانو سرچینې

### معکوسي ګروی څه شی دي – د مشرانو لپاره د کور د توپیر پیسو معکوسي ګروی؟

معکوسه ګروي له هغو مشرانو سره په شهرت کې وده کوي چې په خپلو کورونو کې د توپیر پیسي لري او غواړي خپل عاید تکمیل کړي. د متحده ایالاتو د فدرالي حکومت لخوا بیمه شوی یوازینی معکوسه ګروي د کور د توپیر پیسو د معکوسي ګروي یا HECM په نوم یادیږي او یوازې د FHA لخوا تایید شوي پور ورکوونکي له لارې شته ده. که تاسو د کور مالک یاست چې عمر مو 62 یا تر دې ډیر دی او خپله ګروي مو تادیه کړې یا مو د پام وړ پیسي تادیه کړې او دا مهال په کور کې ژوند کوي، تاسو کولی شئ د FHA د کور د توپیر پیسو د معکوسي ګروی په پروګرام کې برخه واخلئ. HECM د FHA معکوسي ګروی په پروګرام دی چې تاسو ته دا وړتیا درکوي چې ستاسو د کور د توپیر پیسو یوه برخه بیرته واخلئ. تاسو کولی شئ د لومړني استوګنځي پیرودلو لپاره له HECM څخه هم کار واخلئ، که له HECM عایداتو او د پلور نرخ او د هغه ملکیت لپاره د تړلو لګښتونو ترمنځ توپیر تادیه کولو لپاره چې تاسو یې پیرود کوئ، په لاس کې نغدي وکاروئ.

### پروګرام څنګه کار کوي؟

ډیری عوامل شته چې تر پریکړه کولو مخکې باید په پام کې ونیول شي چې ایا HECM ستاسو لپاره سم دی کنه. په دې پروسه کې د مرستې لپاره باید د HECM له سلاکار سره ووینئ څو د پروګرام پر شرایطو برابروالي د اړتیاوو، مالي اغیزو او د HECM ترلاسه کولو او پور بیرته ورکولو بدیلونو په اړه بحث وکړئ. سلاکاران به د ګروي د تادیي او تادیي وړ شرایطو په اړه هم بحث وکړي. د HECM مشورې په بشپړیدو سره باید وکولی شئ چې یوه خپلواکه، باخبره پریکړه وکړئ چې ایا دا محصول به ستاسو ځانګړي اړتیاوې پوره کړي. تاسو د HECM د سلاکار لپاره آنلاین لټون وکړئ
https://www.hud.gov/program_offices/housing/sfh/hecm/ یا دغه 4287-569 (800) وړیا شمېرې ته زنګ ووهئ.

### د زړو لپاره د 202 برخي د ملاتړي مسکن پروګرام

د HUD د 202 برخي پروګرام د زړو ته د ملاتړي خدمتونو د اداینې وړ مسکنونو په عرضه کولو کې مرسته کوي. دا خورا ټیټ عاید لرونکي زړو ته هغه اختیارونو چمتو کوي چې دوی ته اجازه ورکوي په خپلواکه توګه ژوند وکړي، خو په داسي چاپیریال کې چې ملاتړي فعالیتونه چمتو کوي لکه پاکول، پخلی کول، ترانسپورت او نور.
د مسکن په 202 برخه کې اشغال د هري خورا ټیټ عاید لرونکي کورنی لپاره پرانیستی دی چې لږترلږه یو کس پکې شامل وي چې د لومړني اشغال په وخت کې لږترلږه 62 کلن وي. د مسکن د لیست لپاره 30 پاڼه وګورئ.

### یو د اداینې وړ اپارتمان پیدا کړئ

د دې لپاره چې تاسو ته نږدې د اداینې وړ د زړو د مسکن واحد ومومئ، زموږ د دغه کتاب د کرایي مرستي برخي ته مراجعه وکړئ (پاڼه 30).

### د مشرانو لپاره نور فدرالي پروګرامونه

د متحده ایالاتو د کلیو پراختیا د کرنی څانګه د کلیوالي ټولنو د اوسیدونکو لپاره یو شمیر پروګرامونه د دولتي مرستي لرونکو مسکنونو د پراختیا، د کور ترمیم پورونو، مرستي او نورو په ګډون لري. د دغو پروګرامونو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره آنلاین https://www.rd.usda.gov/ ته لاړ شئ یا د دوی د مسیچیوسیټس دفتر سره اړیکه ونیسئ: USDA Amherst State Office د 451 West Street Suite 2 Amherst, MA 01002. ټیلیفون: 4300 -253 (413) فکس: 7673-596 (855).



### ElderCare مونډونکی

Eldercare مونډونکی د متحده ایالاتو د اداري یو عامه خدمت دی چې د زړو خلکو او د دوی کورنیو لپاره خدمتونه سره نښلوي. تاسو کولی شئ له دوی سره آنلاین په https://eldercare.acl.gov/Public/Index.aspx یا 1116-677 (800) ته په زنګ وهلو سره اړیکه ونیسئ.

## نورې مهمې سرچينې



### د عمومي روغتيا او بشري خدمتونو سرچينې

***2-1-1*** – ماس 211 د ټيليفون شميره په ياد ساتلو کي اسانه ده چي زنګ وهونکي د دوی په ټولنه کي د جدي روغتيايي او بشري خدمتونو په اړه معلوماتو سره نښلوي. دا د دولتي ګټو او خدمتونو موندلو، غير انتفاعي سازمانونو، ملاتړو ګروپونو، دواطلبانه فرصتونو، د بسپنه ورکولو پروګرامونو، پمپر بانکونو، روغتيايي مرکزونو او نورو سيمه ييزو سرچينو موندلو لپاره د سرچيني په توګه کار کوي. يوازې په هر ټيليفون کي 2-1-1 ډايل کړئ يا http://mass211.org/ ته مراجعه وکړئ



### پيشکي پيسي\د کرايي لنډمهاله مرسته

**لېږد لرونکو کورنيو لپاره د استوګنځي مرستي -** RAFT پروګرام د بي کوره کيدو مخنيوي پروګرام دی چي د مسکن او د اوسيدو وړ ټولنو (EOHLC) اجرايوي دفتر لخوا تمويليږي. RAFT د هغو کم عايد لرونکو کورنيو لپاره لنډ مهاله مالي مرستي چمتو کوي چي بې کوره دي يا د بې کوره کيدو په خطر کي دي.

RAFT پروګرام له کورنيو سره مرسته کوي چي د مسکن په باثباته شرايطو کي وساتي کله چي د ويستلو، د اسانتياوو له لاسه ورکولو او د مسکت نورو بيړني حالتونو سره مخ وي. RAFT کولی شي د 12 مياشتو په موده کي هرې کورنۍ ته تر $7,000 پورې چمتو کړي څو د اوسني مسکنن په ساتلو کي مرسته وکړي يا نوي کور ته کډه وکړي. RAFT د EOHLC د سيمه ييزې اداري اداري (RAA) لخوا اداره کيږي. د خپل RAA لپاره د اړيکو معلومات https://hedfuel.azurewebsites.net/raa.aspx پکي ومومئ



### د ښاري خدمتونو مرسته

***د ټولني د کړني پروګرام دفترونه***

د CAP دفترونه د سون توکو د مرستي پروګرامونه اداره کوي او د برېښنا او ګازو بيلونو، موصليت/هوا ورکولو او د کورې ترميم په برخه کي مرسته کوي. د CAP ډيری دفترونه د کار روزني، د ورځي پاملرني او د مسکن معلوماتو په ګډون د بې‌لابېلو خدمتونو په برخه کي مرسته کوي. پر دې د پوهيدو لپاره چي ايا تاسو مرسته ترلاسه کولی شئ او دا چي کومه اداره ستاسو ښار يا ښار څنډه پوښي، نو په 8175-632 (800) سره "کولډ ريليف وړيا ټيليفون کرښي" ته زنګ ووهئ يا https://www.mass.gov/doc/cold-relief-brochure/download ته مراجعه وکړئ.

***د ښاري خدمتونو کمپنيونه يعني تخفيفونه***

ډيری برېښنايي او د ګازو شرکتونه کم عايد لرونکو کورنيو ته د تخفيف وړانديز کوي. تاسو په اتوماتيک ډول وړ ياست که د انحصاري ماشومانو کورنيو ته انتقالي مرستي (TAFDC)، زړو، معيوبينو او ماشومانو ته بيړنۍ مرستي (EAEDC)، د خوړو د کوپون ګټي، MassHealth، SSI، د سون توکو مرستي يا که ستاسو ماشوم د ښوونځي د غرمي په پروګرام کي وي يا سر پيل ترلاسه کوئ. دغه تخفيف کولی شي تاسو په هر بيل کي 25-35% خوندي کړي. د تخفيف لپاره غوښتنه وکړئ، خپل ګاز او برېښنا شرکتونو ته زنګ ووهئ او د غوښتنليک غوښتنه وکړئ.

***د ټيليفون تخفيفونه***

د ټيليفون ځيني شرکتونه د کم عايد د تخفيف پروګرامونه لري. خپل سيمه ييز ټيليفون شرکت ته زنګ ووهئ څو دا وپوښتئ چي ايا دا د کم عايد د تخفيف پروګرام لري او څنګه اپلای وکړئ.

***د مسیچیوسېټې د ښه ګاونډي د انرژۍ تمویل***

د د مسیچیوسېټې د ښه ګاونډي د انرژۍ تمویل د میسچیوسېټس هر هغه اوسیدونکي ته شتون لري چې د لنډمهاله مالي ستونزو له امله نه شي کولی د یوې میاشتې انرژي لګښت پوره کړي او د دولت یا فدرالي انرژۍ مرستې پر شرایطو برابر نه وي. عاید باید د دولت د منځني عاید کچه د 60-80% ترمنځ راټیټ شي. د نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ 334-3047 (800) 1 ته زنګ ووهئ (د ساحې 508، 617، 781 او 978 کوډونه وړاندې کوي) یا 262-1320 (800) 1 (د ساحې 413 کوډ وړاندې کوي). تاسو کولی شئ په مستقیم ډول د خپل سیمه ییز ژغورنې اردو د خدمتونو له مرکز سره اړیکه ونیسئ.

***د پیسټون د ادانې وړ پروګرام (ACP)***

ACP یو داسې پروګرام دی چې په دې ډاډمنولو کې مرسته کوي چې کورنۍ وکولی شي بانډ پراخې ترلاسه کړي چې دوی د کار، ښوونځي، روغتیایي پاملرنې او نورو لپاره ورته اړتیا لري. دغه ګټه پر شرایطو د برابرو کورنیو لپاره د انټرنټ خدمت لپاره په میاشت کې تر 30$ پورې تخفیف او د وړ قبایلي ځمکو کورنیو لپاره په میاشت کې تر 75$ پورې تخفیف چمتو کوي. پر شرایطو برابرې کورنۍ همداراز کولی شي له ګډون کوونکو چمتو کوونکو څخه د لپټاپ، ډیسټاپ کمپیوټر یا ټابلیټ پیرود لپاره تر 100$ پورې کله چې تخفیف ترلاسه کړي، که دوی د پیرود نرخ کې تر 10$ ډیر او تر $ 50 کمه مرسته وکړي. د نورو معلوماتو لپاره [www.fcc.gov/acp](http://www.fcc.gov/acp) ته مراجعه وکړئ.

## کارموندنه او دندئې روزنه

***CareerOneStop***



د کار د ځانګې تمویل شوې ویبپاڼه د دندې پلټونکو، کارګرانو او کارګومارونکو لپاره د کار او روزنې په اړه معلومات وړاندې کوي. همداراز د بیکارۍ ګټو موندونکی هم شته دی چې د دولت لخوا د ګټو لپاره د ثبتولو په اړه معلومات چمتو کوي. دغه سایټ تاسو ته اجازه درکوي چې مسلک وپلټئ، د دندې یا روزنې لټون او سیمه ییزه مرستې وپلټئ او ویبې وموموئ. ویبپاڼه د بېلابېلو خلکو لپاره ځانګړي سرچینې هم لري لکه پوځي متقاعدین، د ننوتلو کچې کارګران، له کاره ګوښه شوي کارکوونکي او هغه خلک چې د نورو په منځ کې د مسلک بدلون په لټه کې دي. د دندو، روزنې، مسلک سرچینو یا د بیکارۍ ګټو په اړه د معلوماتو لپاره 872-5627 (877) 1 ته زنګ ووهئ یا [www.careeronestop.org/](http://www.careeronestop.org/) ویبپاڼه وګورئ

***MassHire* د شغل مرکزونه**

MassHire د شغل مرکزونه د کار غوښتونکو لپاره د کار او روزنې خدمتونه وړاندې کوي. د کار غوښتونکي کولی شي بېلابېل ګټور خدمتونه ترلاسه کړي پوځي متقاعدینو د مسلک له سلاکارانو سره کار کول، په ورکشاپونو کې برخه اخیستل او لنډمهاله روزنې، د بیا پیلولو پراختیا، د پوښ لیکونو لیکل،او نور ډیرو په ګډون. د نږدې MassHireشغل مرکز موندلو لپاره [https://www.mass.gov/masshire-career-centers/locations](https://www.mass.gov/masshire-career-centers/locations) ته مراجعه وکړئ.

***د دندې قول اردو***

د وړیا زده کړې او روزنې پروګرام چې له ځوانانو سره مرسته کوي مسلک زده کړي، د عالي لیسې ډیپلوم یا GED ترلاسه کړي او ښه دنده ومومي او ویې ساتي. د هغو پر شرایطو برابرو ځوانانو لپاره چې لږ تر لږه 16 کلن وي چې د کم عاید په توګه وړتیا لري، د دندې قول اردو په مسلک او ژوند کې د بریالیتوب لپاره ټول اړین مهارتونه چمتو کوي. 733-5627 (800) 1 ته زنګ ووهئ یا [http://www.jobcorps.gov/](http://www.jobcorps.gov/) ته مراجعه وکړئ

## روغتیا او خوندیتوب

***د درملنې د مراجعې د مسیر موندلو خدمت***

د محرم، وړیا، د ورځې 24 ساعته، 365-ورځ په کال کې، په انګلیسي او هسپانوي ژبو کې د هغو اشخاصو او کورنیو لپاره چې د سمیه ییزې درملنې اسانتیاو سره مخ دي، مرستندویه ډلې او د ټولنې مېشته سازمانونو د معلوماتو خدمت لپاره 4357-662 (800) 1 ته زنګ ووهئ. د نورو معلوماتو لپاره https://www.samhsa.gov/find-help/national-helpline ته مراجعه وکړئ.



***د HIV/AIDS پاملرنې خدمتونه***

تاسو د نږدې خدمتونو د موندلو لپاره https://www.hiv.gov/ ته مراجعه وکړئ.

***د تښتېدونکو او بې کوره تنکیو ځوانانو پروګرام***

